مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

تحلیل هفته

**شماره: ۲۸۲** (از ۸ الی ۱۵جدی ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

### د افغان سولې په اړه د طالبانو او افغان حکومت د خبرو اړتیا

د افغان جګړې ښکېل اړخونه ........ ۴

د سولې په خبرو کې د افغان دولت ځای ........ ۵

له حکومت پرته سوله شوني ده؟ ........ ٦

### تعویق انتخابات؛ مشکلات تخنیکی یا ضرورت پروسهٔ صلح

ادامهٔ کار حکومت از نظر قانون اساسی ........ ۸

چرا انتخابات به تعویق افتاد؟ ........ ۹

انتخابات یا دولت موقت؟ ........ ۱۰

## مقدمه

په وروستیو څو میاشتو کې د سولې په پار د امریکا ـ طالبان مخامخ خبرو، په افغانستان کې د روانې خونړۍ جګړې د پای ته رسېدو اړوند د افغانانو هیلې زیاتې کړې دي؛ خو د سولې په دغه پروسه کې د افغان حکومت او طالبانو یو بل ضد دریځونه بیا هغه څه دي چې د روانې پروسې د مثبتو پایلو په اړه یې شکونه هم را پیدا کړي دي.

د سولې په روانو خبرو کې طالبانو د تېر په شان اوس هم له افغان حکومت سره د سولې له خبرو ډډه کړې او ټینګار کوي چې موږ یوازې له امریکا سره د سولې خبرې کوو؛ خو په بل اړخ کې بیا افغان حکومت پر طالبانو د فشار راوړلو په موخه داسې ګامونه اخلي چې د روانې پروسې د تخریب وېره ورسره پیدا شوې ده.

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل په لومړۍ برخه کې  په افغانستان کې د روانې جګړې د ښکېلو اړخونو او د سولې په پروسه کې د همدې ښکېلو اړخونو ترمنځ د خبرو پر اړتیا او ارزښت خبرې شوې دي.

د اوونۍ تحلیل دویمه برخه د ولسمشریزو ټاکنو درې میاشتني ځنډ ته ځانګړې شوې ده. د ټاکنو خپلواک کمیسیون تېره اوونۍ اعلان وکړ چې د ۱۳۹۸هـ ش کال د ولسمشرۍ،  د غزني ولایت د ولسي جرګې، د ولایتي شورا او ولسوالۍ شوراګانو ټاکنې به د راتلونکي لمریز کال د سرطان په ۲۹مه نېټه ترسره شي. ولسمشریزې ټاکنې داسې مهال ځنډېږي چې له یوې خوا له طالبانو سره د سولې خبرې روانې دي او له بلې خوا په هېواد کې د لنډمهاله حکومت د رامنځته کېدو اوازې دي.

# د افغان سولې په اړه د طالبانو او افغان حکومت د خبرو اړتیا



په افغانستان کې له تېرو ۱۸ کلونو راهیسې روانه جګړه، چې د لسګونه زره افغانانو ژوند او هستۍ یې ترې واخیستلې؛ په اوس مهال کې یې د پای ته رسېدو په موخه امریکا او طالبان هڅه کوي چې یو له بل سره د خبرو له لارې تفاهم وکړي.

په دې لړ کې له تېرو څو میاشتو راهیسې د امریکا او طالبانو د استازو ترمنځ د سولې په اړه درې ځله مخامخ خبرې وشوې. دا خبرې که څه هم هیله بښونکې دي؛ خو د پایلو په اړه یې لا هم څه نه دي واضح شوي. ځکه طالبان یوازې له امریکا سره پر خبرو ټینګار کوي او نه غواړي افغان حکومت په دغه پروسه کې برخه ولري. په بل اړخ کې بیا افغان حکومت له خپل مالکیت پرته د سولې هیڅ راز خبرې نه مني او په وروستیو کې یې داسې هڅې پیل کړې دي چې پر طالبانو د فشار زیاتولو له لارې دغه ډله له ځان سره د مخامخ خبرو لپاره اماده کړي چې دغې چارې د روانې پروسې د تخریب وېره هم زیاته کړې ده.

په افغانستان کې د روانې جګړې بېلابېل لوري، د امریکا ـ طالبان ترمنځ د سولې په خبرو کې د افغان حکومت د موجودیت اهمیت او دا چې له افغان حکومت پرته به د سولې خبرې څه پایلې ولري؟ هغه موضوعات دي چې دلته به پرې بحث وشي.

## د افغان جګړې ښکېل اړخونه

په افغانستان کې روانه جګړه په ۲۰۰۱م کال کې پر افغانستان د امریکا له بریده وروسته، د طالبانو د رژیم له ړنګېدو سره پیل شوه. که څه هم د طالبانو د رژیم له نسکورېدو وروسته ترڅو کلونو پورې په افغانستان کې ارامي وه او نږدې د هېواد ټوله خاوره د افغان حکومت تر کنټرول لاندې وه؛ خو له ۲۰۰۵م کال را وروسته طالبانو د افغان حکومت او نړیوالو پر وړاندې بېرته خپله جګړه پیل او ورځ تر بلې یې ساحه پراخه شوه.

په افغانستان کې له تېرو ۱۸ کلونو راهیسې په روانه جګړه کې د مختلفو وسلهوالو ډلو نومونه اخیستل کېږي، چې ډېری یې د سیمې او نړۍ په استخباراتي کړیو پورې اړه لري؛ خو په ټولیز ډول دغه جګړه د دریو سترو ښکېلو اړخونو له لوري مخته وړل کېږي:

**امریکا او نړیوال:** امریکا او نړیوال ملګري یې په افغانستان کې د روانې جګړې د پیل کوونکو په توګه د دغې جګړې یو مهم او اصلي ښکېل اړخ بلل کېږي. له ۲۰۰۱ تر ۲۰۱۴م کال پورې امریکا او ملګري یې د افغانستان په جګړه کې نېغ په نېغه ښکېل وو؛ خو له ۲۰۱۴م کال وروسته یې د روانې جګړې په ډګر د افغان امنیتي ځواکونو د روزنې او مشورې دنده په غاړه واخیسته او لسګونه زره عسکر یې هم له افغانستانه و ایستل.

**طالبان:** په افغانستان کې د روانې جګړې دوم ستر اړخ طالبان دي. که څه هم په ۲۰۰۱م کال کې پر افغانستان د امریکا له برید سره د طالبانو رژیم ړنګ شو او تر څو کلونو په هېواد کې ارامي وه. خو دغې ډلې له څو کلونو وروسته بېرته د امریکا او افغان حکومت پر ضد خپله جګړه پیل کړه. دغې جګړې ورځ تر بلې زور واخیست او د ۱۸ کلونو په تېرېدو طالبان اوس مهال شاوخوا د افغانستان په ۴۵ سلنه خاوره کنټرول لري او تر څنګ یې د سیمې او نړۍ په کچه له مختلفو هېوادونو سره ډیپلوماټیکي اړیکې جوړې کړې دي.

**افغان دولت:** په افغانستان کې د روانې جګړې درییم مهم اړخ افغان دولت دی. د طالبانو د رژیم له نسکورېدو وروسته د امریکا او نړیوالو په مرسته په افغانستان کې نوی نظام رامنځته شو. که څه هم دغه نظام ډېرې ستونزې او نیمګړتیاوې لري؛ خو په روانه جګړه کې په ځانګړې توګه له ۲۰۱۴م کال را وروسته، د همدې نظام په چوکاټ کې لسګونه زره افغانان د امنیتي ځواکونو په لیکو کې د طالبانو پر وړاندې جګړه کوي. دغهراز له تېرو ۱۸ کلونو راهیسې درې ځله د ټاکنو له لارې د نظام رهبري تغییر شوې، د دولت درې ګونې قواوې (مقننه، قضایه او اجرائیه) فعالې دي، د هېواد په مختلفو برخو کې پرمختګونه شوي، د مختلفو هېوادونو سفارتونه دلته فعال او افغان دولت په نړیواله کچه سیاسي او اقتصادي اړیکې لري.

## د سولې په خبرو کې د افغان دولت ځای

افغان حکومت له تېرو څو کلونو راهیسې له طالبانو سره د سولې د خبرو د پیل په موخه هڅې کوي. د ملي یووالي حکومت پر مهال په مختلفو ډولونو د سیمې او نړۍ په کچه پر طالبانو د فشار راوړلو هڅې وشوې، ترڅو طالبان له افغان حکومت سره د سولې مخامخ خبرو ته په یو ډول اړ کړل شي؛ خو دغې ډلې تل له امریکا سره پر مخامخ خبرو ټینګار کړی دی.

په وروستیو کې امریکا له دغې ډلې سره د سولې خبرو ته غاړه ایښې او تر دې دمه د سیمې د یو شمېر هېوادونو په همکارۍ د دوارو لورو د استازو ترمنځ درې ځله مخامخ خبرې شوې دي. د سولې په نوم د دغې روانې پروسې لویه ستونزه داده چې افغان دولت ته په کې ځای نه دی ورکړل شوی.

په افغانستان کې د روانې جګړې د یوه مهم او اصلي اړخ په توګه د سولې له خبرو د افغان حکومت ایستل، د دغې پروسه د بریا پر وړاندې خنډونه پیدا کوي. ځکه په افغانستان کې د نوي نظام له جوړېدو نږدې ۱۸ کاله تېرېږي، سلګونه زره کسان د دغه نظام په چوکاټ کې په دندو بوخت دي او د دې نظام تر حاکمیت لاندې خپل ژوند مخ ته وړي. په افغانستان کې د سولې د ټینګښت په برخه د ګڼو نورو اړخونو ترڅنګ په دغه هېواد کې د اوسني نظام رهبران، چارواکي او هغه ټول ولسونه چې د دې نظام تر حاکمیت لاندې ژوند کوي، هم هغه اړخ دی چې د جګړې د پای ته رسولو او سولې په پروسه کې د دوی هوکړه او نظر مهم او اغېزناک دی.

په اوسني نظام کې له سولې سره د یو شمېر اشخاصو او ګړیو، پټ او ان ډېر کله ښکاره مخالفت د سولې پر وړاندې هم یو ستر خنډ بلل کېږي او همدې خنډ د روانې جګړې په اوږدېدو کې هم زیات رول لرلی دی. سولې ته د رسېدو په موخه اړتیا ده چې دغه شان کسان  او ګړي یا د سولې په پروسه کې د همکارۍ په موخه وهڅول شي او یا هم د سولې په پروسه کې د خبرو لپاره ځای ورکړل شي.

له افغان حکومت سره د سولې له خبرو د طالبانو انکار، په وروستیو کې حکومت ◌په یو ډول داسې کړنو ته اړ کړی چې له امله یې پر طالبانو فشار راوړل شي، تر څو دغه ډله له افغان حکومت سره خبرو ته کېني.

ولسمشر غني څو ورځې وړاندې د افغانستان د ملي امنیت دوه پخواني رئیسان امرالله صالح د کورنیو چارو او اسد الله خالد د دفاع وزارت د سرپرستانو په توګه وګومارل. دوی دواړه په هېواد کې د طالب ضد څېرو په نوم مشهور دي او دواړو یې د نوو دندو له پیل سره داسې شعارونه ورکړل چې د سولې د پروسې په زیان یې ګڼلی شو.

## له حکومت پرته سوله شوني ده؟

د سولې په اړه د امریکا ـ طالبان د خبرو په لړ کې د دوړو لورو ترمنځ وروستۍ ناسته په متحده عربي اماراتو کې وه، چې درې ورځې یې دوام وکړ. د دغې ناستې پر مهال افغان حکومت هم خپل پلاوی ابوظبۍ ته په دې هیله لېږلی و چې ګواکې طالبان به د افغان حکومت له دغه پلاوي سره مخامخ خبرو ته حاضر شي؛ خو طالبانو له افغان پلاوي سره د سولې په باب خبرې کول رد کړل.

د طالبانو له دغه رد ځواب وروسته افغان حکومت د طالبانو پر وړاندې خپل دریځ لا سخت کړ. پر طالبانو یې د فشار راوړلو په موخه، د جګړې په میدان کې یې تهاجمي حملې زیاتې کړې، د امنیتي ادارو رهبري یې طالب ضد څېرو ته وسپارله او په ورستیو کې د افغان حکومت د دفاع نوي وزیر اسدالله خالد په ټینګار سره وویل چې که طالبان د سولې خبرو ته حاضر نه شي، نو دوی به یې په زور د سولې خبرو ته حاضر کړي.

جګړه او پوځي فشارونه هغه څه دي چې له تېرو ۱۸ کلونو راهیسې په افغانستان کې ازمویل کېږي؛ خو پایله یې یوازې وژنه او بربادي ده. دا جګړه که لسګونه کاله نوره هم دوام وکړي، پرته له وژنو او بربادۍ به بل څه افغانانو ته ورنه کړي او بالاخره که پای ته رسېږي، نو د خبرو له لارې به پای ته رسېږي.

په اوس مهال کې د سیمې او نړۍ په کچه د افغان جګړې د پای ته رسېدو هڅې روانې دي، نو اړتیا ده چې طالبان او افغان حکومت د دې پر ځای چې له یوې او بلې لارې، پر یو او بل فشارونه زیات کړي، د جګړې د داخلي اړخونو په توګه له نورو ډېر مسؤولیت احساس کړي او تر بل هرچا د روانې جګړې د پای ته رسېدو په موخه ګړندي ګامونه واخلي.

اړتیا ده چې طالبان د سولې په خبرو کې د امریکا تر څنګ افغان حکومت ته هم د دې جګړې د یوه مهم لوري په توګه ځای ورکړي، تر څو د جګړې دړې واړه اړخونه د سولې په پروسه کې هم ونډه ولري. خو که چېرې دا پروسه یوازې د طالبانو او امریکا تر منځ روانه وي، نو د افغان حکومت نه موجودیت به د سولې پر وړاندې خنډونه پیدا کړي چې له امله به یې دا جګړه نوره هم ګرمه شي. پای

# تعویق انتخابات؛ مشکلات تخنیکی یا ضرورت پروسۀ صلح




کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان، هفتۀ گذشته (۳۰ دیسمبر ۲۰۱۸م) اعلام نمود که انتخابات ریاست جمهوری سال ۱۳۹۸هـ ش این کشور که قرار بود در ۳۱ حمل سال ۱۳۹۸هـ ش برگزار شود، در ۲۹ سرطان همین سال برگزار خواهد شد. به گفتۀ کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان، انتخابات شوراهای ولایتی، شوراهای ولسوالی و انتخابات ولسی جرگه در ولایت غزنی را نیز همزمان با انتخابات ریاست جمهوری برگزار خواهند کرد.

با آنکه یوناما یا دفتر هیئت معاونت سازمان ملل متحد در افغانستان از تأخیر در انتخابات ریاست جمهوری استقبال کرده است؛ اما گفته است که مدیریت نادرست انتخابات آینده، غیر قابل قبول بوده و پذیرفتنی نیست. یوناما همچنان گفته است که کمیسیون مستقل انتخابات باید هر چه زودتر تقویم جدید انتخابات آینده را اعلان کند و نیاز است که پیش از برگزاری انتخابات ریاست جمهوری ۱۳۹۸هـ ش در کمیسیون مستقل انتخابات و دارالانشای آن اصلاحات یقینی شود.

چگونگی ادامۀ کار حکومت وحدت ملي از بعد قانون اساسی و این که به دلیل کدام عوامل انتخابات ریاست جمهوری سال ۱۳۹۸هـ ش به تعویق افتاد؟ از جمله موضوعاتی اند که شامل این بحث ما می‌شوند.

## ادامهٔ کار حکومت از نظر قانون اساسی

قانون اساسی افغانستان به عنوان عالی‌ترین سند حقوقی این کشور، یکی از دست‌آوردهای مهم نظام کنونی پنداشته می‌شود که حدود یک ونیم دهه قبل از سوی لویه‌جرگهٔ تصویب قانون اساسی، به تصویب رسید و توسط حامد کرزی رئیس دولت انتقالی افغانستان، توشیح گردید.

در طول پانزده سال گذشته همواره بحث‌هایی در مورد نقض و عدم تطبیق قانون اساسی وجود داشته است. برگزار نشدن انتخابات ولسی جرگه و شوراهای ولسوالی‌ها به زمان معین آن، تمدید دورهٔ کاری ولسی جرگه، ادامهٔ کار سرپرست‌ها در مقام‌های بلند حکومتی، سوء استفاده از صلاحیت‌ها و ده‌ها مورد دیگری را می‌توان نام برد که در طول یک و نیم دههٔ گذشته از نقض و عدم تطبیق قانون اساسی در افغانستان حکایت دارد.

اخیراً تعویق سه ماه در انتخابات ریاست جمهوری که قرار بود در ۳۱حمل سال ۱۳۹۸هـ ش برگزار شود، خلاف قانون اساسی افغانستان، دورهٔ کاری حکومت را تمدید می‌کند. مادهٔ شصت و یک قانون اساسی به صراحت بیان می کند: «وظیفهٔ رئیس جمهور در اول جوزای سال پنجم بعد از انتخابات پایان می‌یابد. انتخابات به منظور تعیین رئیس جمهور جدید در خلال مدت سی الی شصت روز قبل از پایان کار رئیس جمهور برگزار می‌گردد.»

کمیسیون مستقل نظارت بر تطبیق قانون اساسی افغانستان نیز در واکنش به تصمیم اخیر کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان، در رابطه به تأخیر برگزاری انتخابات ریاست جمهوری ۱۳۹۸هـ ش، این اقدام را نقض صریح قانون اساسی دانسته است. به گفتهٔ عبدالرؤوف هروی منشی این کمیسیون «هر نوع تأخیر در انتخابات مشروعیت نظام را زیر سوال می‌برد و انتخابات ریاست جمهوری باید به وقت معین آن برگزار گردد.»

بر این اساس در کنار ده‌ها مورد نقض قانون اساسی افغانستان از سوی خود دولت افغانستان، اخیراً یک بار دیگر با تعویق سه ماه انتخابات ریاست جمهوری قانون اساسی نقض گردید و رهبران حکومت وحدت ملی بر خلاف قانون اساسی افغانستان به کار خویش ادامه خواهند دادند.

## چرا انتخابات به تعویق افتاد؟

عبدالبدیع صیاد رئیس کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان در کنفرانس مطبوعاتی وضعیت اقلیمي نامناسب برای ثبت‌نام رأی‌دهندگان و انتقال مواد انتخاباتی بخصوص به مناطق سرد سیر کشور، تطبیق اصلاحات و استخدام کارمندان، نبود بودجۀ کافی، استفاده از بایومتریک، مشکلات امنیتی و تعدد همزمان انتخابات ریاست جمهوری، شوراهای ولایتی، ولسوالی‌ها و انتخابات ولسی جرگه در غزنی را به عنوان دلایل عمدۀ تأخیر در برگزاری انتخابات ریاست جمهوری بیان می‌کند.

با آنکه مشکلات مذکور در برابر انتخابات ریاست جمهوری ۱۳۹۸هـ ش، همه در تأخیر انتخابات نقش داشته می‌توانند؛ اما علاوه از مشکلات امنیتی و تخنیکی، برخی موارد دیگر نیز وجود دارند که در تأخیر انتخابات ریاست جمهوری ۱۳۹۸ هـ ش نقش دارند:

**صلح با طالبان:** مسئلۀ گفتگوهای جاری صلح امریکا با طالبان میتواند یکی از موارد مهم تأخیر در برگزاری انتخابات ریاست جمهوری باشد. چون زلمی خلیلزاد نماینده خاص وزارت امور خارجۀ امریکا برای رهبری گفتگوهای صلح با طالبان، چندی قبل بعد از گفتگوهای مستقیم با نماینده‌گان طالبان، در کنفرانسی خبری در کابل اظهار داشت که «امیدوار است قبل از برگزاری انتخابات ریاست جمهوری به یک توافق صلح با طالبان برسد.»

در گفتگوهای اخیر صلح با طالبان مشکل اساسی این است که طالبان تنها بر گفتگو با امریکا تأکید دارند و نمی‌خواهند با حکومت افغانستان گفتگویی داشته باشند؛ اما امریکا و چند کشور دیگر که در این پروسه نقش مهمی دارند در تلاش اند تا طالبان را با حکومت افغانستان به میز مذاکرات حاضر کنند و این موضوع است که نیاز به وقت بیشتر خواهد داشت. بر همین اساس تأخیر سه ماهه در انتخابات ریاست جمهوری ۱۳۹۸هـ ش ممکن به امید حاضر شدن طالبان برای گفتگوهای صلح با حکومت بوده باشد.

**تکت‌های انتخابات:** بر اساس تقویم نخست انتخابات ریاست جمهوری ۱۳۹۸هـ ش پروسۀ ثبت‌نام کاندیدان ریاست جمهوری از اول جدی سال جاری خورشیدی آغاز و تا ۱۲ روز ادامه خواهد داشت، اما در این مدت با آنکه حدود ۵۰ نفر بسته‌های معلوماتی را گرفته بودند؛ اما هیچ یکی بدلیل نتوانستن تشکیل تکت انتخاباتی خویش، به ثبت‌نام حاضر نشدند.

بر این اساس تأخیر در انتخابات ریاست جمهوری به دور از حقیقت نیست، که رئیس جمهور با استفاده از وضعیت موجود و انجام معاملات با مخالفین سیاسی خویش، خواسته باشد شبیه به مجلس نمایندگان، با تأخیر در برگزاری انتخابات ریاست جمهوری حفظ منصب نماید.

## انتخابات یا دولت موقت؟

احتمال برگزار نشدن انتخابات ریاست جمهوری در زمان معین آن، از چندین ماه در میان جریان‌های سیاسی و سیاستمداران کشور مورد بحث می‌باشد که بالاخره تاریخ برگزاری آن از سوی کمیسیون مستقل انتخابات تا سه ماه به تعویق افتاد.

در این میان دلیل مهمی برای تعویق انتخابات، پروسهٔ گفتگوهای صلح با طالبان ذکر می‌شد. چون در رابطه به گفتگوهای صلح امریکا ـ طالبان آوازه‌هایی وجود دارد که گویا دو طرف امکان دارد، قبل از انتخابات ریاست جمهوری به توافق برسند و در این میان گزینهٔ ایجاد دولت موقت به جای برگزاری انتخابات ریاست جمهوری در چارچوب مذاکرات صلح یک فکتور مهم و مورد بحث است.

از سویی هم شورای امنیت ملی افغانستان در خبرنامه‌ای گفته است که هیچ کشور یا فردی حق و صلاحیت بحث دربارهٔ ساختارهای جدید حکومتی برای افغانستان را ندارد و به برگزاری انتخابات ریاست جمهوری تأکید میکند؛ اما پرسش این است که با توجه به مدیریت و روند کاری کمیسیون مستقل انتخابات، تقویم‌گزاری‌های متعدد این نهاد و کارکرد این کمیسیون در برگزاری انتخابات ولسي جرگه، آیا کمیسیون کنونی قادر خواهد بود که انتخابات ریاست جمهوری را بگونهٔ درست مدیریت و برگزار کند؟

در کل اگر پروسهٔ جاری گفتگوهای صلح با طالبان نتیجه‌ای ندهد. در آن صورت با توجه به وضعیت کنونی امنیتی و سیاسی کشور و همچنان کارکرد کمیسیون‌های انتخاباتی افغانستان تقویم اعلان شدهٔ کمیسیون مستقل انتخابات برای برگزاری انتخابات ریاست جمهوری، شوراهای ولایتی، ولسوالی‌ها و انتخابات ولسی جرگه در غزنی، نهایی نخواهد بود و احتمال زیاد وجود دارد که حکومت وحدت ملی بعد از سه ماه نیز به کار خود ادامه دهد.

پایان

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارهٔ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com